مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۴/۰۵/۱۰

# پر ځان د باور نمونې

یو ځل کوم خبریال د ښکلې هنرمندې (مارلین منرو) په جامو نقد وکړ چې چندان جامې نه اغوندي او ذوق یې خراب دی... باید چې ښایسته او قېمتي جامې واغوندي.

مارلین هیڅ و نه ویل، بله ورځ یې د الوګانو له بوری نه جامې جوړې کړې او وایې غوستې. بیا یې هماغه خبریال ته وویل: ښکلا په ګرانبیه جامو کې نه ده او نه مو ښایست زیاتولی شي.

یو ځل کپتان نپولین بوناپارت یوې میلمستیا ته وبلل شو، هغه څه لږ ناوخته ورسېده او د مېلمنو شا ته کېناسته، خدمتګار ولیده، ورغی او ورته ویې ویل: وبښئ! دا ستاسې ځای نه دی، تاسې ته په ستېج کې څوکۍ کېښودل شوې.

نپولین ځواب ورکړ: چېرته چې نپیولین کیني، له هماغه ځایه ستېج شروع کیږي.
دا شول د با اعتماده او باوري خلکو ځوابونه! که تاسې هر څه لرئ او بیا هم جرأت نشئ کولی، مطلب دا چې هیڅ نه لرئ.

ژباړه: سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ